# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

قاسم باز
۰۶ سپتمبر ۲۰۲۰

# ایا په اوسنی شرایطو کی، د افغانستان د تابعیت په پیژند پانه کی د مور د نوم لیکل یا ذکر کول عاقلانه کار دی؟

**په افغاني تذکرو کښی د مور د نوم د لیکلو هیڅ ضرورت نشته.!**

هر تغییر او تحول باید په خپل وخت کی تر سره شی. اول باید تغییر ته عینی او ذهنی شرایط آماده او زمینه مساعده شی بیا یی په مورد کی عملی گام پورته شی. اویا کاله مخکښی په امریکا کی د ښځو د سگریت څکول په عام محضر کی لوی شرم و. ولی اوس ډیر نور بد کارونه په امریکا کی شرم نه دی.. تراوسه په ټوله دنیا کی حتی په امریکا کی هم د ښځی رهبری ته درسته زمینه نده مساعده شوي. د اوسنی جهان نیم نفوس ښځي تشکیل کوی، ولی نظر په فیصدي په ټوله دنیا کی یو محدود تعداد ښځی دي چی رهبری کوي.

د مور نوم د تذکری په ډاتابیس کی لیکل کیږی زما په نظر د تذکری په شناخت کارد کی د مور د نوم هیچ ضرورت نه احساس کیږی په ډیرو مترقی او صنعتی هیوادو کی تر اوسه دا کار ندی شوی مونږ بیچارگان نشو کولای چی یوه شپه ترمنځ د ټولی دنیا په سر کی د هر لحاظه واقع شو. هاغه د فارسی متل دی چی وایی.

"یا نه نه یا ده ده"

د هغي تذکره په اخستلو چی په هغي کی د مور نوم ذکر شوي وی ټول خلک په یو دم نه مترقی کیږي او نه هم عالمان.

تر څو چی په اطرافو او باندو کی خلک په شعوری ډول په پښتنی ، تاجکو، ازبک ، ترکمن او هزاره نشینه منطقو کی خلک دی کار ته راضی کیږی مونږ به نه و. د خدای د پاره ټول افغانستان د کابل ښار یعني شهرنو. کارته ۳ او د کارته ۴ کوڅی نه دی، څلویښت کاله خلک د تعلیم څخه په قصدی ډول لری پاتی شوی . څلویښت کاله خلک په افراطی ډول مذهبی را لوی شوی دی. اوسنی دیموکراسی امریکائی دیموکراسی ده، که امریکایان د افغانستان څخه په شا لاړ شی دا نیم بنده دیموکراسی هم ور سره په شا ځي.

تر اوسه په افغنستان کي د حکومت عالی رتبه غړي چی دیموکراسی په چغو ویلو یی مری وچی شوی هغوی په خپله دی ته حاضر ندی چی د خپلی ښځی ، خور او مور نوم په تلویزیون او یا هم کوم دوستانه محفل کي د دوستانو په منځ کی ووایی. نو مونږ څنگه د کلو او باڼډ د بیچاره عامو خلکو څخه دا توقع وکړو.

په حقیقت کی د مور د نوم ذکر کول په افغانی پیژند پاڼو کی دا د پښتنو پر ضد یوه پټه توطیه ده.چی د پښتنو نفوس کم و ښودل شی. والسلام- ۰۴ سپتمبر ۲۰۲۰